# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**26جوزا_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

به ارزش بیش از چهار میلیون دالر امریکایی هشت تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید -----1
سلګونه مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول---------------------------------------------------1
برای ۱۹ خانواده در ولایت بادغیس، کمک نقدی توزیع شد-------------------------------------------------------1
تر دوو زرو زیات مهاجرین له ایران څخه خپل هېواد ته راستانه شول----------------------------------------------2
بیش از ۳ هزار تن مهاجر مقیم ایران به وطن برگشت نمود--------------------------------------------------------3
له ترکیې سره پر پوله د کډوالو په شا تمبونه: «پولیسو زموږ موبایلونه، پیسې او نور وسایل ونیول« ---------------3
بلغاریا کې څنګه د پناه غوښتنه وکړو؟) ۲(---------------------------------------------------------------------9
یک سال پس از غرق کشتی در پیلوس، قربانیان شکایت شان را از گارد ساحلی تعقیب می کنند---------------------15

# متن کامل اخبار

## به ارزش بیش از چهار میلیون دالر امریکایی هشت تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

ویب سایت وزارت

**به ارزش ۴ میلیون ۳ صدو ۵۹ هزار و ۱۶۹ دالر امریکایی هشت تفاهمنامه های همکاری با موسسات انکشاف اجتماعی و اقتصادی، افغان ها برای حمایت از معارف، زنان برای زنان، هاجر و هماهنگی و انکشاف کمک های بشری در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.**

**به اساس تفاهم نامه های یاد شده موسسه زنان برای زنان مبلغ ۳ میلیون ۹ صدو ۵۲ هزار و ۵۹ دالر را در بخش های حمایت لوژستیکی دفتر کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان، نظارت و حمایت حقوقی بیجاشده ها، جمع آوری تجزیه و تحلیل وضعیت و مشکلات برگشت کننده ها و بیجاشده ها و ارایه آن به دونر، آگاهی دهی، شناسایی افراد نیازمند، مشوره دهی صحی، ترمیم و مراقبت عراده جات، تنظیم و ترتیب مواد در گدام، گدام داری، تهیه تدارکات و روغنیات، نظارت از محلات جهت جمع آوری مشکلات، نظارت از پروژه های ساختمانی ثبت شکایات، توزیع موادغیر خوراکی، نظارت از ایجاد سرپناه و نظارت از پروژه های کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان در ولایات بلخ، سمنگان، جوزجان، فاریاب، بغلان، تخار، کندز، بدخشان، سرپل،کابل، قندهار هلمند، زابل، ارزگان، نیمروز، هرات، ننگرهار، لغمان، کنر و نورستان به مصرف میرساند.**

**موسسه هاجر مبلغ ۲ صدو ۳۶ هزار و ۱۱۴ دالر را در بخش پرداخت های نقدی، ایجاد شغل های کوچک و مشوره های صحی برای ۱۸۵ تن در ولایت کابل، موسسه انکشاف اجتماعی و اقتصادی مبلغ ۱ صدو ۵۰ هزار دالر را در بخش اگاهی دهی در مورد اهمیت داشتن اسناد مدنی برای ۲ هزار و ۳۰۰ خانواده در ولایت هرات، موسسه افغان ها برای حمایت از معارف مبلغ ۱۰ هزار و ۹۹۶دالر را در بخش توزیع بسته خوراکی برای ۸۰ خانواده در ولایت بلخ و موسسه هماهنگی و انکشاف کمک های بشری مبلغ ۱۰ هزار دالر را در بخش توزیع بسته های صحی برای ۷۰ خانواده در ولایت خوست به مصرف خواهند رسانید.**

**تفاهم نامه های یاد شده توسط مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی و کفیل وزارت و نمایندگان موسسات یاد شده به امضا رسید.**

## سلګونه مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**۷۶۳ تنه افغان مهاجرین پرون د غبرګولي پر درویشتمه د تورخم او سپین بولدک له فرضي کرښو څخه خپل هېواد ته راستانه شول.**

**د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، ۱۲۳ کورنۍ چې ۶۰۷ تنه کېږي په جبري توګه له پاکستان څخه راستنې شوې او هلته د مهاجرینو له ریاست سره تر نوم لیکنې وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې.**

**دکندهار ولایت د سپین بولدک سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، ۳۲ کورنۍ چې ۱۵۵ تنه کېږي په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه او هلته د مهاجرینو له ریاست سره تر نوم لیکنې وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ ، د مهاجرت او د خوړو نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې. دغه راز له ټولو کورنیو سره د اسلامي امارت له کړنلارې سره سم د لس لس زره افغانیو په ارزښت مرسته هم وشوه.**

## برای ۱۹ خانواده در ولایت بادغیس، کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت




**برای ۱۹ خانواده، در ولایت بادغیس کمک نقدی بتاریخ ۲۳ جوزا توزیع شد.**

**خانواده ها شامل نیازمندان و عودت کننده گان بوده که قبلاً از طرف امریت مهاجرین آن ولایت، در مرکز مورد شناسایی قرار گرفته بودند.**

**کمک یاد شده مبلغ ۴۸ هزار و ۵۴۰ افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان بود که با نظارت آمریت مهاجرین توزیع شد.**

## تر دوو زرو زیات مهاجرین له ایران څخه خپل هېواد ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**په ایران کې مېشت دوه زره او ۸۷۵ تنه افغان مهاجرین پرون د غبرګولي پر درویشتمه د نمیروز ولایت د ابریشم له لارې پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول.**

**د نیمروز د ابریشم بندر د سرحدي آمر د معلوماتو له مخې، په دغو کسانو کې کورنی هم شاملې وې، چې ۴۱۱ تنه یې اړمن وپېژندل شول او د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شول او خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.**

دغه راز ۲ بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنیو د پېژندنې په موخه MPO موسسې ته ور وپېژندل شول، ۲۰ کورنیو سره د اسلامي امارت له کړنلارې سره سم لس لس زره افغانۍ مرسته وشوه، ۱۸۶ تنو ته هلته په پوله کې د ګومارل شویو کمېټو له خوا په وړیا توګه سیمکارتونه ووېشل شول او ۳۴۷ تنه نور له روغتیایي خدمتونو څخه برخمن شول.

## بیش از ۳ هزار تن مهاجر مقیم ایران به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

سه هزار و ۴۳۷ تن مهاجر مقیم ایران به تاریخ ۲۲ جوزا از طریق پل ابریشم ولایت نیمروز طور داو طلب واجباری به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلو مات آمر سرحدی پل ابریشم، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۶۴۰ نفر ایشان نیازمند شناسایی و غرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند.


۵۴ خانواده مطابق طرز العمل امارت اسلامی کمک شد برای ۲۸۰ تن سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.

و تعداد ۵۶۷ تن از خدمات صحی بهره مند شده اند.

## له ترکیې سره پر پوله د کډوالو په شا تمبونه: «پولیسو زموږ موبایلونه، پیسې او نور وسایل ونیول»

د وزارت ویب سایت

خبرنامه



**په تېرو څو کلونو کې د ترکيې او بلغاريا پر پوله د کډوالو پر وړاندې د تاوتريخوالي په اړه ګن راپورونه خپاره شوي دي. بلغاريا په روان کال کې د شېنګن زون غړيتوب ترلاسه کړ چې له امله يې د بالکان دغه هېواد او ترکيې پر پوله د فرانټکس ځواکونو شمېر درې چنده زيات شو. که څه هم چارواکي ادعا کوي چې دې سيمې ته د فرانټکس ځواکونو د استولو هدف د پولې ساتنه او د تاوتريخوالي مخنيوی دی، خو يو شمېر کډوال بيا وايي چې له پولې څخه په تاوتريخجنه توګه په شا تمبول شوي دي.**

***له بلغاريا څخه ځانګړی راپور***

**نن جمعه، د ۲۰۲۴ د جون ۷، عثمان د بلغاريا جنوبي هرمانلي ښار کې د «مېشن وېنګز» دفتر ته راغلی دی. دغه ۲۵ کلن سوريايی چې نن يې قبولي ترلاسه کړې ده په ۲۰۲۳ کې له ترکيې څخه ځان بلغاريا ته رسولی دی، خو سفر يې له ستونزو ډک و.**

**هغه وايي: «شپږ ځله مې بلغاريا ته د اوښتو هڅه وکړه، خو هر ځل پوليسو و شړلم.» نوموړی زياتوي چې امنيتي ځواکونو يې هر ځل شخصي وسايل نيولي او ځلور ځله يې جامې ترې ايستلې دي. يو ځل هم د هغه ملګری د پوليسو سپي وخوړ عثمان وايي: «امنيتي ځواکونو ټوکه کوله«.**

**سويلنګراد ښار د »مېشن وېنګز» د دفتر په څو کيلومترۍ کې پروت دی چې له ترکيې سره پولې ته څېرمه موقعيت لري. ځلور ځوان مراکشيان چې لږ مخکې له پولې څخه بلغاريا ته اوښتي دي دوو سرتېرو ته چې په موټر کې ناست دي خپل کارتونه ښيي. دوی وايي چې پوله ساتو ځواکونو يې نومونه راجستر کړي دي نو ځکه د ازاد راتګ اجازه لري.**

**دا هم ولولئ**
**<u>بلغاريا کې د کم سنه کډوالو د شمېر ډېروالی: «نه غواړم چې دلته پاتې شم«</u>**




پولیس د مراکشیانو اسناد ګوري، سویلنګراد، بلغاریا، د جون ۶ .انځور: کډوال نیوز

**هوايي ډزې او سپیان**

**دغه کډوال چې له ۲۲ څخه تر ۳۰ کلونو پورې عمرونه لري د عثمان په څېر له زیاتو سختیو وروسته بلغاریا ته په رسېدو بریالي شوي دي. دوی وایي چې څو ځله یې له پولې د اوښتو هڅه کړې ده خو هر ځل پولیسو نیولي او ترکیې ته یې بېرته استولي دي.**

څلور ويشت کلن امين* وايي چې پوله ساتو ځواکونو يې هر څل وسايل، موبايلونه، پيسې، جامې او آن بوټونه نيولي دي. هغه زياتوي چې ځينې وختونه هم دوی په سپيو ډارل کېدل. دغه مراکشي کډوال وايي دوه مهاجر يې ليدلي دي چې د پوليسو سپي ژوبل کړي وو. ياد مهاجر له بلغاريا څخه تر اخراج وروسته اول ترکيه کې روغتون ته يووړل شول او وروسته بيا مراکش ته واستول شول.

امين زياتوي چې پوليسو هوايي ډزې وکړې او ويې ويل ودرېږئ، ودرېږئ، کېنئ، او بيا يې سپان ور خوشي کړل.

د ترکيې او بلغاريا پر پوله د کډوالو پر وړاندې تاوتريخوالی کومه نوې خبره نه ده. له دې وړاندې سازمانونو او خبرياالنو په دې اړه ګڼ راپورونه خپاره کړي دي. خو نن سبا دغه پېښې په داسې حال کې رامنځته کېږي چې د روان کال د مارچ له پيل راهيسې بلغاريا د شېنګن ساحې غړيتوب ترلاسه کړی او له امله يې د اروپا د پولې ساتنې ادارې يا فرانټکس سرتېرو شمېر له ترکيې سره پر پوله درې چنده زيات شوی دی.

که څه هم صوفيا کې د هلسينکي کميټې مشره ايليانا ساووا په دې آند ده چې له ترکيې سره پر پوله د فرانټکس د سرتېرو حضور د تاوتريخوالي د کمېدو سبب ګرځېدلی دی، خو يو شمېر نور فعاالن وايي چې د فرانټکس د سرتېرو شتون سربېره په تاوتريخوالي کې کموالی نه دی راغلی.

د »مېشن وېنګز« غړی حميد خوش سير وايي چې په دې وروستيو کې هم له داسې کسانو سره مخ شوي دي چې څو ځله يې بلغاريا ته د اوښتو هڅه کړې خو له پولې څخه په شا تمبول شوي دي. حميد وايي: «څو ورځې مخکې يو کس ما ته وويل چې ۱۳ ځله يې له پولې د تېرېدو هڅه کړې. يو بل کس وويل چې ۱۵ ځله يې په شا تمبول شوی دی«.

دا هم ولولئ
<u>د بلغاريا پلازمېنه صوفيا کې د ډوبلين پروسيجر لاندې کډوال: «له ژونده تنګ راغلی يم«</u>




سویلنګراد، بلغاریا، د جون ۶ .انځور: کډوال نیوز

**ځلورو میاشتو کې د اخراج لس زره پېښې**

**د هلسینکي کمیټې مشره ایلیانا ساووا دا خبره تاییدوي خو وايي: «دلیل یې دا دی چې د فرانټېکس او بلغاریا ګډ ځواکونه د پولې په ټولو برخو کې حضور نه لري. که چېرې کډوال د فرانټېکس د سرتېرو په حضور کې ونیول شي، دوی بیا د ثبت او راجسټر مراکزو ته استول کېږي اوله دغه ځای ځخه یې شړل ممکن نه دي«.**

**هغه پر پوله د فرانټېکس د سرتېرو شتون مهم بولي او وايي چې شمېر یې باید نور هم زیات شي. دغه مسوله زیاتوي چې «د کډوالو د په شا تمبونې پېښو پر مهال تاوتریخوالی او ناسم چلند د پخوا پرتله کم شوی دی او موږ کولی شو چې په راتلونکو میاشتو کې په دې اړه د موجودو شمېرو پر اساس قضاووت وکړو.«**

**د بلغاریا د کورنیو چارو وزارت د یو راپور له مخې چې د اپریل په میاشت کې خپور شوی دی، د روان کال له پیل ځخه د اپریل د میاشتې تر پایه پورې ۱۰۰۴۱ پېښې ثبت شوې چې په ترڅ کې یې کډوال «یو ګاونډي هېواد ته ستانه شوي دي .«سازمانونه وايي چې دغه مبهمه جمله د کډوالو د په شا تمبولو په مانا ده.**

**له دې وړاندې د بالکان ځېړنیزو راپورونو شبکې د ۲۰۲۴ په فبروری میاشت کې د یو راپور په خپرولو سره لیکلي وو چې د فرانټېکس د بلغاریا د پولې ساتو ځواکونو له خوا د کډوالو د په شا تمبولو ځخه خبر و، خو په دې برخه کې یې اقدام نه و کړی.**

يادې شبکې ليکلي وو چې ډېرى وختونه د فرانټېکس سرتېري له هغو سيمو څخه لرې ساتل کېږي چې تاوتريخوالى پکې جريان لري.




د فرانټېکس اجرايي مشر هانس لېجتنز د ترکيې او بلغاريا له پولې څخه د سفر پر مهال د دغې ادارې له سرتېرو سره، د ۲۰۲۴ د فبرورۍ ۲۹. انځور: رويترز

د فرانټېکس وياند بيا کډوال نيوز ته وايي چې دوى «د په شا تمبوني او نورو احتمالي سرغړونو په اړه د ادعاوو د جديت او حساسيت څخه خبر دي او هغو ستونزو ته جدي توجه کوي چې په اړه يې اطلاع ترلاسه کوي.» هغه زياتوي چې د فرانټېکس «د اساسي حقونو مسول د بلغاريا چارواکو له خوا د هغو جدي سرغړونو په اړه راپورونه ليکلي چې په اړه يې ادعا موجوده ده او د بلغاريا چارواکو ته يې هم وړانديزونه کړي دي.«

فرانټېکس دا هم وايي چې دوى د خپلو عملياتونو په جريان کې له هغو طريقو څخه اخلي چې د دغو حقونو د ساتلو لپاره دي، لکه د اساسي حقونو د څېړونکو په دنده ګومارل، د پوله ساتو ځواکونو روزل او د پېښو په اړه د اطلاع ورکولو د ثابت سيستم جوړول.

## بلغاريا کې څنګه د پناه غوښتنه وکړو؟ ۲ (

د وزارت ويب سايت



**که څه هم یو شمېر کډوال بلغاریا ته د ترانزیټ هېواد په سترګه ګوري او هڅه کوي چې له دغه ځای څخه ځانونه د اروپايي ټولنې نورو هېوادونو ته ورسوي، خو یو شمېر نور بهرنیان بیا د بېلابېلو دلایلو له امله بلغاریا کې د پناه غوښتنه کوي .کډوال نیوز د بالکان په دغه هېواد کې د پناه غوښتنې پروسیجر د څرنګوالي په اړه معلومات ورکوي چې دویمه برخه یې دلته لوستلی شئ.**

**د دې مطلب لومړۍ برخه :<u>بلغاریا کې څنګه د پناه غوښتنه وکړو؟) ۱(</u>**

**۲ .بلغاریا کې د پناه غوښتونکو ژوند**

**هغه کډوال چې بلغاریا کې یې د پناه غوښتنه کړې ده یو شمېر حقونه او مکلفیتونه لري. په دغه <u>سایټ</u> کې چې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو ادارې له خوا تموېلېږي د کډوالو د حقونو او مکلفیتونو په اړه اساسي معلومات موندلی شئ.**

**حقونه**

- **د بلغاریا په خاوره کې اوسېدل: کډوال حق لري چې د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې بلغاریا کې ژوند وکړي .**
- **راجستر کارټ: په دغو درې میاشتنیو کارتونو کې د کډوالو نوم، عکس، د زیږېدلو نېټه او ځای، جنسیت، تابعیت، شخصي نمبر، ادرس، د تګ راتګ محدوده او داسې نور معلومات درج شوي دي. دغه کارتونه د تمدید وړ دي.**

- سرپناه، خواړه او روغتیایي خدمات: کډوال کولی شي چې د پناه غوښتنې تر ثبت کولو وروسته په هغو کمپونو کې ژوند وکړي چې د کډوالۍ ادارې تر مدیریت لاندې دي. دغو کمپونو کې کډوالو ته په ورځ کې درې ځله خواړه ورکول کېږي. پناه غوښتونکي همداراز روغتیایي خدماتو ته لاسرسی لرلی شي.
- کار: پناه غوښتونکي اجازه لري چې د خپلې دوسیې تر ثبت ۳ میاشتې وروسته د کار بازار ته لاسرسی ومومي.

***یو شمېر کډوال چې د بلغاریا پلازمېنې صوفیا په ووښنا رامپا او د هرمانلي ښار مهاجر کمپونو کې اوسېږي په دغو مرکزونو کې د نظافت له ناوړه وضعیت او همدارنګه د خوړو له کموالي او بد کیفیت څخه شکایت لري. د ووښنا رامپا کمپ یو شمېر اوسېدونکو کډوال نیوز ته وویل چې کمپ کې یوازې یو ډاکټر شته چې د ټولو ناروغیو لپاره یوه ګولۍ ورکوي.***



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

هرمانلي کمپ کې د یوې کوټې عکس. د دې انځور ټول حقونه خوندي دي .

**مکلفیتونه**

- بلغاریا کې پاتې کېدل، د تګ راتګ محدوده د شپې له خوا په کمپ کې پاتې کېدل: د بلغاریا د قانون له مخې، پناه غوښتونکي اړ دي چې په دغه هېواد کې پاتې شي .په راجستر کارتونو کې د کډوالو د تګ راتګ محدوده مشخصه شوې ده او پناه غوښتونکي یوازې د کمپ د مسول د کتبي اجازې د ترلاسه کولو په صورت کې له یادې محدودې څخه وتلی شي. همدارنګه د کډوال حق نه لري چې له اجازې پرته شپه له کمپه بهر سبا کړي .
- مرکې ته حاضرېدل: کډوال اړ دي چې د لیک یا اطلاع د ترلاسه کولو په صورت کې په ټاکل شوي وخت کې د مرکې ځای ته حاضر شي .دغه مرکه ډېره مهمه ده او که چېرې کډوال پکې غایب وي، نو دوسیه به یې تړل کېږي.

**۳ .مرکه او پرېکړه**

دا د پناه غوښتنې تر ټولو مهم پړاو دی او کډوال باید وکولی شي چې چارواکو ته د خپلې دوسیې په اړه کافي دلایل او ټول هغه اسناد وړاندې کړي چې د هغوی د کېسونو د اثبات لپاره ضروري ګڼل کېږي. دغې مرکې ته حاضرېدل ډېر مهم دي او کډوال باید مرکه کې د غیاب په صورت کې موجه دلیل ولري.

کډوال حق لري چې د مرکې پر مهال ژباړونکي ولري. دوی همداراز اجازه لري چې د مرکې په جریان کې د مبهمو مسایلو په اړه د وضاحت غوښتنه وکړي. ثبت شوي معلومات د مصاحبې په پای کې کډوالو ته د هغوی په اصلي ژبه لوستل کېږي. که چېرې مهاجر له ثبت شویو معلوماتو سره موافق وي، نو کولی شي چې دغه سند لاسلیک کړي.


کډوال معمولاً د خپلې دوسیې له ثبت وروسته د ۶ میاشتو په جریان کې کتبي ځواب ترلاسه کوي. په ځینو مواردو کې دغه پروسیجر تر ۲۱ میاشتو پورې وخت نیولی شي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



ځلور مراکشي کډوال په سویلنګراد ښار کې. انځور: کډوال نیوز

۴ .استیناف

پناه غوښتونکي حق لري چې د منفي ځواب په صورت کې د استیناف غوښتنه وکړي. دغه پړاو د پناه غوښتنې له پروسیجر سره تړاو لري .

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان په سایټ کې راغلي دي چې بلغاریا کې د پناه غوښتنې په برخه کې دوه پروسیجرونه شته: ۱) عمومي پروسیجر: کډوال حق لري چې د ۱۴ ورځو په موده کې د استیناف غوښتنه وکړي. دغه غوښتنه دوو محکمو کې بررسي کېږي: هغه اداري محکمه چې د کډوالو له ثبت شوي ادرس سره تړاو لري او وروسته بیا د صوفیا عالي اداري محکمه.

۲ (چټک پروسیجر :کډوال حق لري چې د ۷ ورځو په موده کې د استیناف غوښتنه وکړي. دلته بیا یوازې یوه اداري محکمه د کډوالو د دوسیې په اړه نهایي پرېکړه کوي.

دا هم ولولئ

<u>د بلغاریا پلازمېنه صوفیا کې د ډوبلین پروسیجر لاندې کډوال: «له ژونده تنګ راغلی یم»</u>

۵ .مثبت ځواب

په بلغاریا کې د اروپایي ټولنې د نورو هېوادونو په شان پناه غوښتونکو ته دوه سندونه ورکول کېږي: د کډوالی سند یا د جانبي حفاظت اسناد. لومړی سند ۵ کاله خو دویم سند بیا ۲ کاله اعتبار لري او دواړه یې د تمدید وړ دي.

د دواړو سندونو درلودونکي بلغاریا کې د کار، د کورنۍ الحاق او ښوونځي ته د تګ اجازه لري. د جانبي حفاظت درلودونکي کولی شي چې له ۵ کلونو وروسته د تابعیت غوښتنه وکړي. دوی همدارنګه کولی شي چې د یو شمېر شرایطو په پوره کې سره بهر ته سفر وکړي. د کډوالی اسنادو درلودونکي بیا د مثبت ځواب له ترلاسه کولو ۳ کاله وروسته د تابعیت غوښتنه کولی شي. دوی همداز اجازه لري چې د بلغاریا د وګړو په څېر د اروپایي ټولنې نورو هېوادونو ته سفر وکړي.

***د کاریتاس په ګډون یو شمېر سازمانونه وایي چې بلغاریا کې د منل شویو کډوالو د ادغام لپاره کوم ځانګړی مکانیزم نشته. دغه سازمانونه زیاتوي چې کډوال د مثبت ځواب له ترلاسه کولو وروسته باید د دوو اونیو په موده کې له کمپونو ځخه ووځي او پخپله ځان ته کار او سرپناه ومومي .***

## یک سال پس از غرق کشتی در پیلوس، قربانیان شکایت شان را از گارد ساحلی تعقیب می کنند

مهاجرنیوز



یک سال پس از بدترین سانحه غرق کشتی در بحیره مدیترانه که به مرگ بیش از ۶۰۰ تن منجر شد، وکیلان بازماندگان که دوسیه جزایی برعلیه گارد ساحلی یونان را تعقیب می کنند، روز پنجشنبه در این باره جزئیات تازه ای را ارائه کردند .

این کشتی فرسوده و پرازدحام که از طبرق در لیبیا به سوی ایتالیا در حرکت بود، در شب ۱۴ جون غرق شد. به گزارش ملل متحد، کشتی بیش از ۷۵۰ سرنشین داشت، اما فقط ۸۲ جسد پیدا شدند.

بیشتر سرنشینان کشتی، مردان، زنان و کودکان از سوریه، پاکستان، مصر و افغانستان بودند. بسیاری از آن ها افراد خوردسال و بدون همراهی بودند که بین ۱۵ تا ۱۸ سال سن داشتند.

در همین زمینه

<u>کشتی غرق شدن در یونان: از جمله ۹ مهاجر تبرئه شده، ۴ تن از بازداشت رها شدند</u>

کمیته بین المللی صلیب سرخ و هلال احمر سعی کردند به صدها خانواده ای کمک کنند که هنوز هم در جستجوی عزیزان مفقودشده شان هستند.

پس از این که یک محکمه ماه گذشته شکایت برعلیه ۹ مرد مصری را بی اساس خواند، وکیلان ده ها تن از بازماندگان این سانحه یک کنفرانس خبری برگزار کردند .این ۹ تن به عضویت در یک باند افراد خلافکار و اداره این کشتی ماهیگیری متهم شده بودند.

گارد ساحلی یونان در این سانحه چه نقشی داشته است؟

**۵۳ تن از ۱۰۴ فرد بازمانده به صورت مشترک یک شکایت تنظیم کردند و گارد ساحلی را متهم کردند که با وجود هشدارهای آژانس محافظت از مرزهای اتحادیه اروپا »فرانتکس» و سازمان غیردولتی «الارم فون»، ساعت ها بعد واکنش نشان داده است.**

**النی اسپاتانا، یک وکیل که با گروه اژه ای حامی پناهجویان (RSA) همکاری می کند، به خبرنگاران گفت: «این جنایتی بوده است که بیش از ۱۵ ساعت به طول انجامیده است.»**

**هنوز تحقیقات مقدماتی راجع به این دوسیه توسط محکمه امور بحری پیریوس جریان دارد، اما وکیلان بازماندگان می گویند که در اقدامات گارد ساحلی یونان قبل و بعد از این سانحه متوجه بی نظمی هایی شده اند.**



**82 bodies were recovered after the Pylos shipwreck. | Photo: ICRC**

**به گفته بازماندگان، کشتی زمانی واژگون شد که گارد ساحلی یونان آن را به دنبال خود می کشید. سپس در فاصله ۴۷ مایل دریایی از ساحل پیلوس این کشتی غرق شد.**

**گارد ساحلی یونان می گوید که با سرنشینان آن تماس داشته است .اما آن ها «هرگونه کمک را رد کرده اند» و در این وضعیت انجام هرگونه عملیات نجات در بحر کار مخاطره آمیزی بوده است.**

**اما در روز پنجشنبه ماریا پاپامینا، هماهنگ کننده مسائل حقوقی برای شورای پناهجویان در یونان گفت که گارد ساحلی در آن زمان تصمیم گرفته که یک قایق گزمه از کرت به محل سانحه بفرستد. در حالی که این امکان را داشته که یک قایق بزرگتر نجات را بفرستد که در بندر گیتیوی شبه جزیره پلوپونیز مستقر بوده و به محل سانحه نزدیک تر بوده است.**

به گفته پاپامینا، جعبه سیاه قایق که حامل اطلاعات این سفر بوده از کار افتاده بوده و دو ماه پس از این سانحه ترمیم شده است. افزون براین هیچ فلم ویدیویی از قایق گزمه نیز وجود ندارد. او گفت: «نگرانی هایی موجهی وجود دارد که تلاش هایی برای سرپوش گذاری (براین واقعه) وجود داشته است». سپاتانا از گروه اژه حامی پناهجویان افزود: «روشن بود که هیچ قصدی برای نجات (مهاجران) قبل از غرق قایق وجود نداشته است. این مساله نه فقط وحشتناک است، بلکه پیامدهای جزایی دارد«

در همین زمینه

<u>یونان: محکمه ۹ متهم را از مسئولیت در غرق شدن کشتی ۷۵۰ نفری، تبرئه کرد</u>

وکیلان بازماندگان روز پنجشنبه گفتند پس از این که گارد ساحلی هرگونه اتهامی را در این باره رد کرد، دفتر امبودس من یونان تحقیقات انضباطی دراین باره را به جریان انداخت. امبودس من، یک دیده بان بی طرف است که وظیفه اش دفاع از حقوق شهروندان می باشد.

گفته می شود که روز جمعه اقارب قربانیان در پاکستان قصد دارند در شهر لاله موسی گردهم بیایند تا علیه مسئولیت ناپذیری مقام های یونانی در برابر این سانحه مرگبار اعتراض کنند. به گفته حکومت پاکستان ۳۵۰ پاکستانی نیز در شمول مسافران این کشتی بوده اند.